لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن
۲۸ می ۲۰۲۰



نظرمحمد مطمئن

# فاتح عیب نه لري

دا لنډې کلیمې "فاتح عیب نه لري" مې له استاد محمد زمان مزمل صاحب واوریدې، له اوریدو سره یې سم ما وپتېله چې په دې اړه لیکنه وکړم.

له پخوانی شوروي اتحاد سره د جهاد پر مهال، د مجاهدینو رهبرانو چې هر ډول غلطې پرېکړې کولې، خو بیا هم د فاتح په شکل کې هغوی عیب نه درلود. ځکه هغوی له شوروي سره په جګړې کې فاتحین وو، برلاسي او قوي وو.

غازي امان الله خان که څه هم د اروپا په سفر کې ډیرې تیروتنې درلودلې، خو داچې فاتح و، فاتح عیب نه لري، تر همدا ننه هغه غازي یادیږي، خو که د خپل ولس په منځ کې د سقاو له زوی سره په جګړه کې ښکېل شوی وای، پرته له شکه نن به یې عیب درلود، لکه مجاهدینو چې همدا تیروتنه وکړه، او نن همهغه پرونی فاتح رهبران بلا ډیر عیبونه ځکه لري چې کورنۍ جګړو کې ښکېل پاتې شول.

که پاچا ظاهر د داود خان پر ضد جګړه کړې وای، نن به یې په ولس کې ځای نه درلود، خو هغه چې کورنۍ جګړه ونه کړه، پرونې فاتحین رهبران یې هرکلي ته لاس په نامه ولاړ وو.

دوه کاله وړاندې افغان حکومت د روژې میاشت کې اوربند اعلان کړ، عادي خبره وه، ولس فکر کاوه چې د کمزورۍ له کبله دا کار کوي، مګر کله چې د طالب لخوا د کوچنې اختر درې ورځې اوربند اعلان شو، دغه اعلان عیب نه درلود، د ولس او نړیوالو لخوا یې تود هرکلی وشو، همهغه خبره ده چې فاتح عیب نه لري.

له اوباما سره په شپه کې د حامد کرزي لخوا د تړون لاسلیک، او بیا د ډاکټر غني د ملي امنیت سلاکار لخوا له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک، ځکه عیب درلود چې امریکا افغانستان ته په راتګ ځان فاتح ګڼه، د امریکا لپاره یې عیب نه درلود، خو د افغان ولس له پاره له شرمه ډک تړونونه وو.

د امریکا – طالبانو تړون ځکه عیب نه درلود چې طالب د فاتح په شکل او امریکا/ناټو د مغلوب په شکل کې له یو بل سره لاسلیک کاوه.

طالبانو ونه منله چې کمپ ډیوېډ ته د ټرمپ لېدو ته ورشي، که فاتح نه وای، بلا زیات عیبونه دې کړني درلودل، مګر داچې فاتح عیب نه لري، طالب په دې ازموینه کې هم بریالی راووت.

همدارنګه د ګوانتانامو او باګرام زندانیانو بریالی تبادله کې هم فاتح عیب نه درلود، خو مقابل لوری "امریکا" تر ډېرو نیوکو لاندې راغله، که امریکا جګړه کې بریالی او طالب کمزوری وای، بیا به امریکا د تبادلې اړوند عیب نه درلود، خو داچې "فاتح عیب نه لري، شکست ویاړ نه لري" ځکه خو دواړه معاملې د طالب په ګټه تمامې شوې.

هغه فتواوې چې د طالب په ضد په کابل او سعودي کې ورکول شوې، څه فکر کوئ که دا ډول فتواوې د کابل حکومت په ضد ورکول شوې وای، څومره غوغا به یې په ولس کې جوړه کړې وای، خو وایي فاتح عیب نه لري.

د همدې اوسني کوچني اختر لړ مخکې افغان حکومت د یرغلیزو بریدونو اعلان وکړ، د ولس او نړۍ له مخالف غبرګون سره مخ شو، خو چې بیا بیا یې د اوربند غوښتنه کوله، بې تاثیره وه، مګر کله چې طالبانو د حکومت تهاجمي عملیاتو اعلان په درې ورځني اوربند جواب کړ، په ولس کې له تود هرکلي سره مخ شو، بیا هم د فاتح عیب نه لري خبره ده، که چیرته بالعکس، طالبانو د تهاجمي عملیاتو اعلان کړی وای او افغان حکومت یې جواب په اوربند ورکړی وای، پر حکومت به نیوکه کېده چې کمزوری دی.

کله چې د اوربند په مقابل کې افغان حکومت د ۲۰۰۰ طالب بندیانو خوشې کېدو اعلان، د اختر په دوهمه یې ۹۰۰ بندیان ازاد کړل، د افغان ولس او نړیوالو له تود هرکلي سره یې دغه کړنه مخ شوه، او دایې د حکومت کمزوري ونه ګڼله، ځکه چې امریکا ژمنه کړې وه، چې د مارچ تر لسمې به ۵۰۰۰ بندیان خلاصیږي، خو افغان حکومت غوښتل چې وښیي چې پدې برخه کې د امریکا اوامر نه پلې کوي. مګر که یې ۵۰۰۰ ټول طالب بندیان خوشې کړی وای، او طالبانو ۱۰۰۰ دولتي بندیان خوشې کړي وای، پرته له شکه چې دا د افغان حکومت په ضُعف نه، بلکې سولې ته ژمنتیا باندې دلالت کاوه.

له درې ورځې اوربند وروسته چې تر دې مهاله طالبانو په جګړه کې کمښت راوستلی، دایې په ربښتوني توګه په ضُعف نه، بلکې قوت باندې دلالت کوي.

**او که طالب د بین الافغاني مذاکراتو د پیل اعلان کوي، نو دابه یې په لا ډیر قوت دلالت کوي، او خلک به باوري شي چې طالبان نه غواړي چې د پخوانیو مجاهدینو ترخې تجربې تکرار، او بیا ځل کورنۍ جګړې ته ننوځو.**

له طالبانو زموږ غوښتنه داده چې د جګړې پای ته رسیدو، سولې ته رسیدو لپاره په مخ درومئ، فاتح عیب نه لري، خو که په کورنۍ جګړه کې ښکېل شوئ، نو بیا پوه شئ چې "مات شوی لوری هیڅ ویاړ نه لري" بیا به ستاسي ټول ګټلي ویاړونه داسي په اوبو لاهو شي لکه د مجاهدینو ویاړونه چې رهبرانو یې په بې پروایي سره له منځه یوړل.

د جګړې د کمښت اړوند به ځینې مغرضي کړۍ او رسنۍ ووایي چې طالبان کمزوري شوې، هغوی غواړي چې طالبان او افغان حکومت په کورنۍ جګړو کې پاتې شي، په کار ده چې د دغه ډول منفي څرګندونو تر تاثیر لاندې طالب رانه شي، او له افغان حکومت تمه ده چې د جګړې کمښت ته له مثبت زاویې وګوري، بندیان خوشې او بین الافغاني خبرې پیل شي.